


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

| | |
|---|---|
| فرید احمد « تسکین » ـ پکتیا<br>د نشر نیټه : ۲۳ جولای ۲۰۱۳ میلادی |  |

# د غمرازۍ پیغام

ارمان دی بیا لیدو یې درده پاتې شي دوی لاړ شي
د ګل غوندې د ورځې میلمانه وي ځیني خلک

خواشيني یو چې د اوښتون کلتوري ټولنې غړي شاعر،لیکوال او خبریال اسماعیل لاروی کشر ورور محمد امین له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې.
محمد امین چې دنیکو اخلاقو اود یوې سپیڅلي څیرې خاوند و،تل یې خپل وخت د پوهې په لاره کې لګاوه او د ګران هیواد افغانستان پر درد او غم به خواشینی و.
د شهید محمد امین هغه خبره مې هیڅ له زړه نه نه وځي چې ویل یې که خدای ج کول دوولسم ټولګی مې په خلاصیدو دی خدای ج دې وس راکړي چې بهر ته د لوړو زده کړو لپاره مې کار وشي. د ده د نیکي رویې او ښه چلند برکت و چې د مالیزیا هیواد ته د سکالرشیف لپاره بریالی شو. د کوچني اختر وروسته یې دالوتکې پرواز و؛خو څه خبرو،چې د مرګ سیلی به یې دا ارمان له خاورو سره ګورته وړي ،څو ورځې وړاندې د افغانستان د دوښمنانو لخوا د مرکز ګردیز په ښارکې په بمي چاودنه کې ټپي شو ،چې له څو ورځو تداوی وروسته یې په روغتون کې پرون سهار شپږ بجې ۳۱/۴/۱۳۹۲ نیټه یې د شهادت جام نوش کړ.
د افغانستان د هنر او کلتور د ودې ټولنې اداره د ښاغلي اسماعیل لاروي کورنی سره په دې غم کې ځان شریک بولي شهید امین ته له لوی رب ج نه د جنت فردوس اوکورنی ته یې د صبر جمیل غوښتنه کوي .

اناالله وانااليه راجعون
روح یې ښاد پر ګور یې نور
د افغانستان د هنر او کلتور د ودې ټولنې د اړیکو مسوول
فرید احمد « تسکین »

بازګشت به صفحه اصلی ـ www.said-afghani.org